# عاصي (ګناهکار) سړی

+

# د ګناه تال

+

# مناجات



Ketabton.com

عبدالرشید "صمد نجاب"

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سرلیک** : عاصي (ګناهکار) سړی + د ګناه ټال + مناجات

**ژباړه او لیکنه** : عبدالرشید "صمد نجاب"

**ترتیب** : ارسلان همت

**پښتۍ ډیزاین** : ارسلان همت

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

## عاصي (ګناهکار) سړی:

په بني اسرائيلو قوم کې يو فاسق سړی ؤ،

چې د ښار اوسيدونکي د هغه له ګناهونو او معصيت څخه په تنګ شول،

او خدای (جل جلاله) ته يې دعا وکړه!

خدای (جل جلاله) حضرت موسی (عليه السلام) ته وحې وکړه:

چې فاسق او ګناهکار سړی له ښار څخه وباسې،

تر څو د ښار اوسيدونکو ته د هغه له امله زيان ونه رسيږي.

موسی (عليه السلام) ګنهکار سړی يې له ښار څخه تبعيد کړ؛

هغه بل ښار ته ولاړ، امر وشو چې له هغه ځايه هم هغه وباسې،

نو يو غار کې يې د اوسېدلو لپاره پناه واخيسته او ناروغ شو، څوک نه ؤ چې پالنه يې وکړي.

نو پر ځمکه يې مخ او د حق په لاره کې يې له ګناه،

بې وسۍ او عاجزۍ څخه چيغې او ځارۍ ترسره کړې؛

**چې ياالله (جل جلاله) ما وبخښه،**

که چېرې کورنۍ او اولادونه مې دلته وای زما په بې وسۍ به يې ژړلي وای،

ياالله (جل جلاله) چې زما او زما مور او پلار او مېرمنې تر منځ دې جلاوالی اچولی دی،

ما مې د خپلو ګناهونو له امله مه سوځوه.

الله (جل جلاله) له دې دعاګانو وروسته پرښتې (ملائکې) يې د هغه د مور او پلار،

مېرمنې او اولادونو په بڼه جوړې کړې او هغه ته يې ولېږلې.

کله چې ګناهکار سړي خپل خپلوان د ځان څنګ کې وليدل،

خوښ شو او له نړۍ څخه ولاړ (مړ شو).

الله (جل جلاله) موسی (عليه السلام) ته وحې وکړه،

چې زمونږ ملګری په فلاني ځای کې وفات شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library

غُسل يې وکړه او ښخ يې کړه.

کله چې موسی (علیه السلام) هغه ځای ته ورسيد،

نو په غَور سره يې وکتل...

او ويې ليدل چې دا هغه سړی دی چې هغه يې تبعيد (جلاوطن) کړی ؤ؛

عرض يې وکړ:

ياالله (جل جلاله)! آيا دا هماغه سړی دی چې تا ما ته د ښار څخه د اېستلو امر يې کړی ؤ؟؟؟

«————»

. . .

## : د ګناه ټال :

د ګــــناه په ټال زنګېږم بيـــا په تمه د ثواب

بې خـودَه يم له ځـانه لاهـو په بحـر د شـــراب

ســـوځېږم له سِره اوره په ســکروَټو يم کـباب

لا تر اوســـه يم ويدِه نه ويښېږم لـدې خـــواب

روح و تن نعره کړي نور يې نلرو مونږ تاب

وايي مه هېروه " رحمـــــان" ته خپل ځواب

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د شَیخ ابو سعید ابو الخیر ډېره مشهوره څلوریزه/رباعي:**

بازآ بازآ هر آنچــه هســتی بازآ ~~~ گر کافر و گبر بت پرسـتی بازآ

این درگه ما درگه نومیدی نیست ~~~ صد بار اگـر توبه شـکستی بازآ

«««ډېری خلک پدې باور دي چې دا څلوریزه د مولانا جلال الدین محمد بلخي ده. »»»

**زه نه پوهېږم.**

**؟؟؟؟؟**

**«————»**

**. . .**

# :: مناجات ::

نظر مې ستا پر لور، شپه مې د سپوږمۍ هینداره ده

اوس را نږدې کېــږم، تر آسمانَ لږه لاره ده

زما اړمنو لاسونو ته، ته وګوره له هٔاغه پاسه

پورَوړی یمَ ستا، دې ورځو کې دا ځانګړې

آرامتیا ده ستا له لاسه

**ای! خدایه! [جل جلا له] تاسره مینه لرم**

د هر څه لپاره دې، چې تا را ته بخښلي

دا تل ته یې چې دې حال زما، له ما څخه پوښتلي

بیا مې سترګې زه تړم چې ستا نیکۍ وشمارم

نشم کولای یوازې وایم:

**ای! خدایه! [جل جلا له] تا سره مینه لرم**

(c) ketabton.com: The Digital Library

تا ولیدل چې ما خطا وکړه

زړه مې وِرک شو بیا مې دعا وکړه

ستا غېـــږې ته را وګرځم، تر څو چې ساه مې پاتې ده

دا احسان پر ما وکړه

ته زما په بیګانګېو له ما نه هم ښه پوه يې په اساس

نه غواړمَ چتر د دنیا، چې ته باران يې د **احساس**

**ای! خدایه! [جل جلا له] تا سره مینه لرم**

د هر څه لپاره دې، چې تا را ته بخښلي

دا ټل ته يې چې دې حال زما، له ما څخه پوښتلي

بیا مې سترګې زه تړم چې ستا نیکۍ وشمارم

نشم کولای یوازې وایم:

**ای! خدایه! [جل جلا له] تاسره مینه لرم.**

**"¯_(ツ)_/¯"**

**«———————»**



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**